# مطبوعاتي اعلامیه

**افغاني کورنۍ له لوږې سره د مبارزې په موخه خپل ماشومان نشه کوي**

بي بي سي د ۲۰۲۲م کال د نومبر په ۲۴مه، د خوراکي توکو د کمښت په اړه چې افغانستان یې خورا ډېر ځپلی دی یو راپور خپور کړ. د دې ناورین په اړه د عبدالوهاب په نوم یو کلیوال پلار وایي: "زموږ ماشومان ژاړي، خوب نه کوي، خواړه نه لرو، درملتون ته ځو، ګولۍ راوړو او خپلو ماشومانو ته یې ورکوو. په همدې سره دوی ویده کېږي." د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) شمېرې خپرې کړې چې له ۲۰ ملیون څخه ډېر خلک - د نفوس نیمایي برخه - د خوراکي خوندیتوب د ۳ اندازې "ناورین" یا ۴ اندازې "اضطراري" حالت سره لاس او ګریوان دي. له یو ملیون څخه ډېر ماشومان چې له ۵ کالو څخه کم عمر لري، د خوړو د محرومیت د کچې لوړېدو او د شدیدې مزمنې خوارځواکۍ له امله د مړینې له خطر سره مخ دي. پر ځوانانو د لوږې اغیزې په ساده ډول د خوراکي توکو په ډېرولو سره بدلون نه مومي. حقیقت دا دی چې له روغتیایي اړخه، کله چې د ماشومانو وده په ټپه ودرېږي، ان که ژوندي هم پاتې شي، بیا هم له پام وړ روغتیایي ستونزو سره مخ وي. WFP راپور ورکړی چې په غور ولایت کې په لسګونو زره خلک د ۵ اندازې "ناورین" شدیدې خوارځواکۍ سره لاس او ګرېوان دي. په ټولیز ډول د ۲۰۲۲م کال له اګست میاشتې راهیسې څه باندې ۹۰ سلنه افغانان د خوراکي توکو له نه خوندیتوب سره مخ دي.

د یوې شپې او ورځې په ترڅ کې خواړه پرینبودل یا نه درلودل او د خوړو د ترلاسه کولو لپاره په بېلا بېلو میکانیزمونو کې ښکېلېدل او کار ته د ماشومانو لېږل یو معمول ګرځېدلی. د ماشومانو د نشه یي توکو وروستی طریقه د خطر سره د ماشومانو د کړاو د کمولو لپاره د خلکو د ناهیلو اقداماتو ثبوت دی. غلام حضرت په هرات ولایت کې خبریالانو ته د Omeprazole ټابلیټونو پاکټ وښود چې د خپلو ماشومانو د آرامولو لپاره یې کاروي. په هرصورت، که ماشومانو ته ورکړل شي ښایي د پښتورګو او ځیګر ناروغیو لامل وګرځي. Escitalopram او sertraline هم د ډوډۍ د یوې ټوټې په بیه ترلاسه کیدی شي.

د ماشومانو د روزلو پر ځای د مسمومولو دا وحشتناک حالت د خلافت د اسلامي رهبرۍ د نه شتون له امله دی. متحده ایالاتو او نورو حکومتونو، د نړیوال بانک ګروپ سره، د ۲۰۲۱م کال د اګست په ۱۵مه د طالبانو واکمنۍ ته د سزا ورکولو لپاره د افغانستان د مرکزي بانک اعتبار لغوه کړ. د بشري حقونو د څارنې د اسیا د څانګې مشر جان سیفټن وویل: "په افغانستان کې د لوږې او روغتیایي کړکیچ شدیده بیړنۍ اړتیا ده او ریښه یې بانکي ناورین دی. له دې پرته چې د طالبانو دریځ یا له بهرنیو دولتونو سره اعتبار ولري، نړیوال اقتصادي محدودیتونه لا هم د دغه هېواد د ناورین او زیان لامل ګرځي.» د افغانستان مرکزي بانک نه شي کولای خپلو بهرنیو اسعارو زیرمو ته لاسرسی ومومي او نه شي کولای ډیری نړیوالې معاملې پروسس یا ترلاسه کړي. د پایلې په توګه، هیواد د پام وړ ناورین او د بانکنوټونو له نشتوالي سره لاس او ګرېوان دی. سربېره پردې، سوداګرۍ، بشرپاله ډلې او خصوصي بانکونه د خپلو عملیاتي ظرفیتونو پراخ محدودیتونو راپور ورکولو ته دوام ورکوي. په ورته وخت کې، له دې امله چې بهرنیو تمویل کوونکو د افغانستان د روغتیا، پوهنې او نورو اړینو برخو کې د مرستې لپاره مالي مرستې په جدي توګه کمې کړې، میلیونونو افغانانو خپل عاید له لاسه ورکړی دی.

په تېرو شلو کلونو کې د مرستو او پیسو ډېره برخه امریکایي او اروپایي قراردادیانو ته تللې او په افغانستان کې هیڅ زیربنا نه ده جوړه شوې، چې همدا لامل دی هېواد یې اوس مهال بې وزله او د خوراکي توکو له کمښت سره مخ دی. د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې په جګړه کې یې د ډېرې شتمنۍ د لوټلو سربېره، د یو

باثباته اقتصاد او د خوړو خونديتوب تضمين کولو لپاره څه شی ترسره نه کړل. افغانستان د هغه څه مثال دی چې الله سبحانه وتعالی د هغو پاچاهانو په اړه فرمايلي دي چې يو ملت اشغال او ذليل کوي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**[قَالَتْ إِنَّ الْمُلُوكَ إِذَا دَخَلُوا قَرْيَةً أَفْسَدُوهَا وَجَعَلُوا أَعِزَّةَ أَهْلِهَا أَذِلَّةً وَكَذَلِكَ يَفْعَلُونَ]**

**ژباړه:** *«ملکې وویل: «پاچاهان چې کله يوه کلي (سيمې) ته ننوځي، نو هغه ورانوي او د هغه عزتمند خلک ذليله کوي. دوی همدغسې کار کوي.»* [نمل: ۳۴]

الله سبحانه وتعالی هيڅکله دا نه مني چې مسلمانان دې د نا مسلمانو ادارو په کنټرول کې ژوند وکړي چې په اړه يې الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**[وَلَن يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلا]**

**ژباړه:** *«... او الله تعالی د کافرانو لپاره پر مسلمانانو د برلاسۍ هېڅ کومه لار ده نه ده جوړه کړې.»* [نسأ: ۱۴۱]

نو په کار ده چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم پرمنهج د دويم راشده خلافت د راګرځولو لپاره هلې ځلې وکړو چې اسلام به په هر اړخيزه توګه تطبيق کړي او د دې امت سرپرستي او ملاتړ به زموږ د ګرانو اولادونو په ګډون له کړاوونو وژغوري. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اسْتَجِيبُواْ لِلّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُم لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ]**

**ژباړه:** *«اې ايمان راوړونکو! د الله تعالی او د هغه د پيغبر بلنې ته لبيک ووایاست چې کله پيغمبر تاسو ته د هغه شي په لوري بلنه درکړي چې تاسو ته ژوند ببنونکی دی. وپوهېږئ چې الله تعالی د انسان او د هغه د زړه ترمنځ حايل دی او د هماغه لوري ته به تاسو ورټولېږئ.»* [انفال: ۲۴]

د حزب التحرير- د ښځو برخې مرکزي مطبوعاتي دفتر

۱۴۴۹هـ.ق کال، د جمادی الاول ۹مه

۲۰۲۲م کال، د ډسمبر ۳مه

د صدور ګڼه: ۲۰/ ۱۴۴۴